# د تدریس نوې کړنلارې

نوماند پوهنیار حیات الله آریا [۱]، نوماند پوهنیار روزي محمد عادل [۲]

[۱]تاریخ څانګه، [۲]کېمیا څانګه، د ښوونې او روزنې پوهنځی، میرویس خان نیکه زابل د پوهنتون

Hayatuiiah.arya302@gmail.com

## لنډیز

دا څېړنه د تدریس په نویو کړنلارو باندې تر سره شوې ده. پوښتنه دا ده چې د فعالې، مؤثرې او مادام العمره زده کړې د کولو درېسي کړنلارې کومې دي؟ د ښوونې په عرصه کې د نړۍ چټک پرمختګ او زموږ د ښوونیز نظام اړتیاوې ایجابوي چې په نویو درېسي کړنلارو د ښوونیز سیستم عیارول، به د مؤثرې زده کړې لپاره زمینه برابره کړي. د نوموړې څېړنې په تر سره کولو کې موږ له کتابتوني مېتود څخه په ګټې اخیستنې سره معلومات له معتبرو مأخذونو څخه راټول کړي دي. د دې څېړنې په پای کې موږ دا نتیجې په لاس راوړې چې د تدریس د نویو کړنلارو په واسطه زده کوونکي درسي مفاهیم په ښه ډول هضم کولی شي. د تدریس نوې کړنلارې چې په شاګرد محوري او فعاله زده کړه باندې ټینګار کوي، پایله څرګندوي، چې زده کوونکو ته د پراخ مشارکت، تعلیمي علاقې او انګېزې، تصمیم نیونې، منطقي او انتقادي تفکر فرصتونه د تدریس د نویو مېتودونو په وسیله مهیا کېږي. د انتقادي تفکر، ستونزې په بنسټ زده کړه او ټکنالوجي محوره درسي کړنلارې د نویو درسي کړنلارو په منځ کې له اهمیت ډکې راته ښکاره شوې، چې په ښوونځیو او پوهنځیو کې به یې په تطبیق او عملي کولو سره زده کوونکي اغېزمنه پوهه تر لاسه کړي.

کلیدي کلمې: د تدریس نوې مېتودونه، د نویو او سنتي مېتودنو توپیرونه، سنتي مېتدونه،

## سریزه

د ستني درسي کړنلارو عمده ستونزه دا ده چې د ښوونکي له ذهن څخه معلومات د زده کوونکو ذهن ته انتقال شي. د دې کړنې په پایله کې د زده کوونکو ذهن په تدریجي ډول له داسي معلوماتو څخه ډکېږي چې د هغوی له درک، سویې او فکر سره متناسب نه وي. د ۲۰ م پېړۍ په پیلنیو کلونو کې د نوې اروا پوهنې پرمختګ د تدریس لپاره نوې لارې چارې اختراع او تطبیق کړې، چې په دې تدریسي کړنلارو کې ښوونکی د لارښود حیثیت لري او زده کوونکي په فعالانه ډول په زده کړه کې ونډه اخلي. د دې څېړنې اهمیت او ارزښت په دې کې دی، چې د نویو مېتودونو اغېزې مثبت تاثیرات څرګندوي. د نویو درسي کړنلاو په توسط زده کوونکي په فعاله زده کړه کې ګډون کوي. دا څېړنه په زده کوونکو باندې د نویو مېتودونو اغېزې، لکه انتقادي تفکر، مشترکه همکاري، د ستونزې د حل هڅه، د مادام العمره زده کړې او له زده کړې سره د زده کوونکو علاقه څرګندوي. د دې څېړنې موخې د فعالې زده کړې د کړنلارو پېژندنه، د ستني مېتودونو په ځای په درسي ټولګي کې نویو مېتودونو ته د ښوونکو او استادانو د پام را اړول دي او د نویو او زړو مېتودونو په وسیله باندې له زده کړې څخه تر لاسه شویو پایلو مقایسوي توپیرونه څرګندوي. نوې تدریسي کړنلارې کوم درسي کړنلارو ته وایې؟ که چېرې ښوونکي له نویو درسي کړنلارو څخه استفاده وکړې، پایلې به یې مؤثرې وې؟ د اوسنۍ زمانې اړتیاوو ته په کتلو سره په ستني مېتودونو باندې زده کړه اغېزمنه کېدلی شي. له نویو درسي کړنلارو څخه استفاده کول کېدلی شي، د اغېزمنې زده کړې لپاره زمینه برابره کړي. د ستني تدریسي پیکه پایلې څرګندوي چې د اوسني زمانې ښوونیزو اړتیاوو ته ځواب نه شي ویلی. څېړنې په تر سره کولو کې موږ له کتابتوني مېتود څخه په ګټې اخیستنې سره معلومات له معتبرو مأخذونو څخه راټول کړي دي.

## تېرو آثارو ته کتنه

غلام دستګیر په ( ۱۳۸۱ ) د تدریس مېتود د لومړي زده‌کړو د ښوونکو لپاره، تر عنوان لاندې کتاب لیکلی دی چې د پخوانیو او ځینو نویو مېتودنو یادونه یې

کړې ده. چون د په نویو مېتودونو او د هغو په اغېزو باندې بحث نه دی کړی. قدرت الله نظري په ( ۱۳۹۵ ل ) کې د ښوونې او روزنې اساسات، په نوم تدریسي کتاب لیکلی دی چې د ښوونې او روزنې په اړه عمومي بحث کوي، د عصري ښوونې او روزنې په برخه کې څه ناڅه وضاحتونه لري. زهرا، په( ۱۳۹۸ ل ) روش های نوین تدریس در دانشگاه ها، یادگیری مبتنی بر مسأله ( رهنمای تدریس ) تر عنوان لاندې یوه مقاله خپره کړې ده چې د مسألې په اساس د زده کړې په مېتود باندې یې بحث کړی دی، چون دا مېتود له نویو درسي مېتودونو څخه دی، ما له دې څېړنې څخه استفاده کړې ده. بنیامین، چرابین، مسلم او ملګرو یې په، ( ۱۴۰۳ ل ) تحلیل کیفی چالش ها و فرصت های آموزش تفکر انتقادی در کارکنان آموزش و پرورش تر عنوان لاندې څېړنه کړې ده چې د انتقادي تفکر په تعریف او زده کړې پر ارزښت باندې یې بحث کړی دی، دا چې انتقادي تفکر د نویو درسي کړنلارو له جملې څخه دی. په دې څېړنه کې ما ترې استفاده کړې ده. رومانی، سعید، نژاد سبزاور، حدیث او ملګرو یې ( ۱۳۹۹ ل ) اهمیت و کاربرد فناوری در آموزش تاریخ تر عنوان لاندې یوه مقاله خپره کړې ده، چې په زده کړه کې خصوصاً د تاریخ او ټولنیزو علومو په زده کړه کې یې له ټکنالوجي څخه د کار اخیستنې اړوند ځینې موضوعات تشریح کړي دې. دا چې ما په نویو درسي کړنلارو باندې څېړنه کړې ده او ټکنالوجي په نویو تدریسي مېتودونو کې یو با اهمیته مېتود دی، په دې برخه زما څېړنه د دوی له څېړنې سره په ځینو برخو کې ممکنه ورته والی لري او ما د ماخذ په حیث استفاده ترې کړې ده. پاکنهاد، شیرمحمد، چاپ کال ( ۱۳۸۴ ل ) میتودهای عمومی تدریس. کاظمی، سیده معصومه ،کوهساره، فرزانه عبادی، چاپ کال ( ۱۳۹۹ ل ) شیوه های نوین آموزش. فرقانی، نوشین، فرخی نژاد، پریسا و دیگران، سال نشر ( ۱۳۹۵ ل ) نقش و تاثیر فناوری اطلاعات و ارتباطات در تحولات نظام آموزشی. دې پورتنیو آثارو په مستقل ډول باندې د زده کړې په نویو مېتودونو باندې بحث نه دی کړی. د دې تر څنګ په دې څېړنو کې د ډالتین مېتود، د مونته مېتود، د پروژې مېتود او ځیني نور مېتودونه په متفرقه ډول راوړل شوي دي، چې د مستقلې څېړنې

په ډول د زده کړې د نويو کړنلارو د څېړنې اړتيا پيښېدلی شي. په دې څېړنه کې مې د نويو درسي کړنلاو په اړه مطلوبه او اغېزمنه څېړنه کړې ده.

## د څېړنې مېتودولوژي

زما د څېړنې روش او سپړنلاره هم کتابتوني ده، ما په خپله څېړنه کې علمي مقالې، بېلابېل معتبر او مؤثق کتابونه استفاده کړي دي. د را اخستيل شويو موادو له تجزيې او تحليل او اوډنې څخه مې دا څېړنه چمتو کړې ده.

## تدريس

زده کوونکي او ښوونکي تر منځ له هغو هدفمندو، منظمو او مخکې پلان شويو فعاليتونو او کړنو څخه عبارت دی چې د يوه ټاکلي هدف د تر لاسه کولو لپاره يې ښوونکی عملي کوي. هغه زده کړيز فعاليتونه چې د رسنيو لخوا د زده کوونکي او ښوونکي له تعامل څخه پرته مخته وړل کېږي، تدريس نه شو ورته ويلی. دې ډول فعاليتونو ته زده کړه ايز او آموزشي فعاليتونه ويل کېږي د آموزش او زده کړې مفهوم د تدريس له مفهوم څخه پراخ او سيع دی. بناً، ويلی شو چې هر تدريس زده کړه او آموزش دی او هرې زده کړه ايزې برنامې ته تدريس نه شو ويلی. د تدريس لپاره د تعليم او تربيتي پوهانو ځينې مهمې نښې ټاکلې دې، چې له نورو زده کړيزو فعاليتونو څخه يې توپير پرې کېدلی شي. ۱. د زده کوونکو او ښوونکي مشترك او متقابل فعاليت. ۲. د مطلوب او مخکني پلان شوي هدف د ترلاسه کولو لپاره هڅه کول. ۳. د ځای او امکاناتو ظرفيت ته په کتلو سره د خپلې درسې برنامې لپاره د منظم پلان طرحه کول. ۴. د زده کړې او پوهونې فرصت ايجادول. مطلب او منظور دا دی: چې ښوونکی بايد له وړاندې ځان ته دا مشخصه او ځانګړې کړي، چې له تدريس څخه يې هدف څه دی؟ په زده کوونکو کې بايد کومې وړتياوې وده وکړي؟ د دې ډول مطالبو پوښتنو او کړنو ته په کتلو سره ښوونکی خپل تدريسي بهير مخته وړي.

د تدريس د مفهوم په اړه د مختلفو پوهانو نظريات:

۱. ځيني پوهان وايې: چې « تدريس د هغو علمي حقايقو منظم او پلان شوي بيان ته وايې، چې د ښوونکي په وسيله زده کوونکو ته نقلېږي».
۲. ځيني نور پوهان په دې نظر دي چې « د زده کوونکو او ښوونکي تر منځ په ټولګي د علمي تعامل جريان تدريس بلل کېږي».
۳. ځيني نور پوهان وايې: چې « د ښوونکي لخوا د داسي شرايطو، فرصتونو او محيط تهيه کول چې د زده کوونکو لپاره زده کړه اسانه کړي، تدريس بلل کېږي ».( رشيد، م، م ۵ – ۷ )

## درسي مېتود

مېتود په لغات کې روش، طريقې او لارې ته وايې. ( تحليلګران ) مېتود يوه يوناني اصطلاح ده، چې له دوو کلمو ميتا ( Meta) او هودوس (Hodes) څخه جوړه ده؛ ميتا د ( دننه، په منځ او دوام ) معناګانې لري او هودوس د ( لارې ) معنا لري. په رواجي توګه مېتود له هغه لارې او طريقې څخه عبارت دی چې خلک خپل هدف ته ځان په رسوي. ( حضرتي، م ۱۷ – ۱۸ ) تدريسي او علمي مېتود له هغې لارې او طريقې څخه عبارت دی چې د تدريسي موخو په لاسته راوړلو کې له ښوونکي سره مرسته کوي او د تدريس په جريان کې يې له تېروتنو څخه ساتي. يا په بل عبارت تدريسي مېتود له هغو علمي فعاليتونو څخه عبارت دی: چې ښوونکی د موضوع لوري ته رهبري کوي. يا تدريسي مېتود له هغې علمي کړنلارې څخه عبارت دی چې د موضوع هدف ته مو رسوي ( پاکنهاد، م ۳۵ )

## د تدريس مېتودونه

د ښوونې او روزنې پروسه يوه اوږده پروسه ده چې له اوږدې زمانې تر نن ورځې پورې يې د تدريجي تکامل او عروج لپاره د اوږدې زمانې واحدونه تجربه کړې دي. د ښوونې او روزنې اوسنی نظام او تدريسي کړنلارې چې نړيواله بڼه يې غوره کړې ده په ځانګړې زمانه او واحد فرد پسې دا تکاملي جريان نه دی منحصر. له اوږدې زمانې يې د تکامل دا پړاوونه راوهلي دي. (نظري، م ۵ ) د تدريس مېتودنه

هم زموږ تر زمانې پورې له مختلفو تکاملي پړاوونو څخه راوتي دي، د ښوونې او روزنې پوهانو درسي کړنلارې په دوو برخو وېشلې دي

## ۱. سنتي کړنلارې (پخواني مېتودونه)

سنتي مېتودونه یا درسي کړنلارې چې د سقراطي مېتودونو جامع اصطلاح هم ورته کارول کېږي له هغو پخوانیو درسي کړنلارو څخه عبارت دي، چې په هغه کې زده کوونکي غیر فعال وي او ښوونکی د فعالیت او اطلاعاتو د انتقال او آرایې اساسي مسؤلیت په غاړه لري. سنتي درسي کړنلارې چې د معلم محوره مېتودونو په نوم هم یادېږي، په دې طریقو کې معلم هڅه کوي چې د زده کوونکو ذهن ته اطلاعات، مفاهیم او اصطلاحات په یو جانبه طریقې سره انتقال کړي. ښوونکی او زده کوونکي په جبري ډول له مشخصې محتواء څخه استفاده کوي، ښوونکی د معلوماتو د منبع په حیث ظهور کوي او په دې تصور تدریسي پروګرام مخته وړل کېږي، چې ګواکې ښوونکی د درس عامل او علت دی. (مقرب الهی، م ۴)

## ۲. نوي مېتودونه (د فعالې زده کړې کړنلارې)

له هغو مېتودونو څخه عبارت دې چې په هغو کې زده کوونکي، د زده کوونکو علایق او د زده کوونکو وړتیاوو ته په کتلو سره ښوونکی د زده کوونکو د تقویې او پوهونې هڅه کوي. په دې ډول درسي کړنلارو کې ښوونکی تدریسي امکانات، د ټولګي محیط او عاطفي فضاء داسې رهبري کوي، چې زده کوونکو ته د فعالیت، تمرین او مؤثرې زده کړې چانس برابر شي. ښوونې او روزنې د بنسټونو پیاوړتیا او نړۍ والې اړتیا ته په کتلو سره د ښوونې او روزنې متخصصینو خصوصاً د ښوونیزې ارواپوهنې پوهانو دې ډول درسي کړنلارو ته په لېوالتیا په تدریسي بهیر کې د عملي کېدو هیله او هڅه کوي. کاظمي، کوهساره، م، م ۱- ۳)

**فعاله زده کړه Active Learning**

د فعالې زده کړې په اړه د ښوونې او روزنې د لويو پوهانو نظريات

۱. ژان ژاك روسو؛ زده کوونکو ته د مسايلو د حل فرصت برابر کړی، چې حل يې کړي. د ښوونکي مسوليت په ټولګي کې دا دی: چې زده کوونکو ته داسي فضاء ايجاد کړي، تر څو هغوی ته زده کړه دلچسپه شي. زده کوونکي تېروتنه کوي، نو تېروتنه دې د ښوونکي له لوري اصلاح شي. ښوونکی چې په ټولګي کې د لارښود، څارونکي او رهنما حيثيت لري، د زده کوونکو فردي توپيرونو ته په کتلو دي تدريسي فضا ايجاد کړي.

۲. جان ډېوي؛ زده کوونکي دي په ټولګي کې د فعالو موجوداتو په حيث د ښوونکي له لوري رهنمايې شي. په ټولګي کې د ښوونکي نقش دا دی: چې د زده کوونکو ذهنونه دې له مسايلو، پوښتنو او ابهاماتو سره مخ کړي او بيا دې د حل لارې چارې ورته تشريح کړي. ښوونکی دي زده کوونکي د تمرين او عملي کار لوري ته رهنمايې کړي او په هغوی کې دي د منطقي فکر مهارت پياوړی کړي.

۳. ژان پياژه؛ زده کوونکي دي په ټولګي کې د زده کولو قواعد او اساسات زده کړي، تر څو د ژوند په پاتې برخه کې خپلې زده کړې جاري وساتي. په زده کوونکو کې د فکري استقلال قوي پياوړتيا د تدريس په نويو لارو چارو سره شونې ده.

۴. برونر؛ د زده کړې مرکزونه بايد لارښوونکي وي. د فعالې زده کړې د توسعت لپاره اکتشافي زده کړېز مېتود مهم دی. اکتشافي روش هوش تقويه کوي، په زده کوونکو کې د کشف فن پياوړی کوي او دا مېتود د زده کوونکو د ذهني تکامل په پروسه کې موثر واقع کېدلی شي. ( ضرابيا و ديگر، م، م ٦ – ٧ )

د ۲۰ مېلادي پېړۍ په پيل کې د علمي ارواپوهنې چټکې ودې او د نويو پوهانو راڅرګندېدو سره د تدريس په مېتودونو کې ژور بدلون ايجاد شول. د دې ټولو زده کړېزو لارو چارو په منځ کې دا ټکي ( زده کړه د فعاليت، څارنې او کشف له لارې ) سره مشترك دي. په دې معنی چې فعاله او موثره زده کړه به هغه وخت تر سره شي چې زده کوونکي په فعاله توګه د مجهولاتو په کشف، پلټنه او مسئلې په نهايې حل باندې لاس پورې کړي.

د ۱۹ پېړۍ له پيل وروسته چې تربيتي ارواپوهنې وده او پرمختگ وکړل، ورسره نوي مېتودونه رامنځته شول او په لاندې ډول دي:

**د دالتن مېتود ( د دالتن نقشه )**

دا مېتود د آمريکا په دالتن ښار کې د يوې ښځينه ښوونکې لخوا رامنځته شو، ياده ښوونکې هلن بازکهرست نومېده خو مېتود يې د دالتن ښار په نوم باندې ياد شو. دا مېتود په شاګرد محوري باندې ولاړ دی، چې زده کوونکو ته د بحث او فعاليت آزادي ورکوي.

۱. زده کوونکي له ښوونکي سره مرسته کوي او د شخصي مطالعې او تحقيق په مرسته کار کوي.
۲. وينا ډېره لږه وي.
۳. درسي اطاق لکه يو لابراتوار داسي وي.
۴. زده کوونکي له ظواهرو څخه ها خواته په حقايقو باندې فکر کوي.
۵. د هدف د رسېدو لپاره زيات وخت ورکول کېږي.
۶. د زده کوونکو تر منځ فردي تفاوتونه مراعت کېږي.

**د دالتن د مېتود ښېګڼې**

۱. زده کوونکي فکر ته هڅوي.
۲. زده کوونکي عمل ته هڅوي.
۳. زده کوونکي ته د برياليتوب لارې چارې ور زده کوي.
۴. که چېرته زده کوونکی دلته بريالی شي، ژوند کولو ته آماده کېږي.
۵. زده کوونکي په ځان باندې باور پيداکوي.
۶. د ښوونکي او زده کوونکو تر منځ باور زياتېږي، رابطه ښه کېږي او زده کړه مؤثره کېږي.

**د مونته مېتود**

ماريا مونته يوه ايټاليوۍ مېرمن ده چې يو ځانګړی مېتود يې رامنځته کړی دی، دا مېتود له ايټاليا څخه انګستان ته او بيا آمريکا ته ورسېدل.

## د دې مېتود اصول

۱. زده کوونکي دې آزاد پرېښوول شي، د اړتيا په مهال دي ښوونکی همکاري کوي.
۲. په دې مېتود کې درسي ټولګی شتون نه لري، زده کوونکي خپل کار ته آزاد پرېښوول شوي وې، چې د کار په وخت کې سره راغونډېږي.
۳. دلته د درس د زده کولو يوازينۍ انګېزه د بريالیتوب احساس ورکول دي.
۴. په عين وخت کې زده کوونکو ته د سپورټ توکي هم مهيا شوي وي، چې د ستړيا په وخت کې ځان پرې هوسا کوي.

## د مونته مېتود ښېګڼې

په دې مېتود کې زده کوونکو ته په خپله خوښه باندې د فعاليت اجازه ورکول کېږي، هغه په ځان باندې باور پيدا کوي. د بريالیتوب احساس کوي او د راتلونکي ژوند لپاره آماده کېږي. د ښوونکي او زده کوونکو تر منځ يې سالمه رابطه رامنځته کېږي.

## د پروژې مېتود

د ۱۹ پېړۍ کالونه چې د تربيتي ارواپوهنې د انقلاب د کالونو په نوم هم يادېږي د زده کوونکو لپاره د پروژې مېتود هم رامنځته شو، په دې مېتود کې ټينګار کېږي چې زده کوونکي د يوې موضوع په وسيله له چاپېريال سره وصل کړي، د زده کوونکو د ابتکار او نوښت قوه تقويه کېږي.

## د پروژې په مېتود کې مهم ټکي

۱. د پروژې موخه.
۲. د پروژې پلان.
۳. د پروژې سرچينې.
۴. د پروژې توحيد او يا پايلې.

## د پروژې مېتود ښېګڼې

۱. زده کوونکي په اړونده فعاليت کې ځان هدفمند، مسؤل او مشغول بولي.
۲. د زده کوونکو پام را اړول کېږي، د تحقيق، تحليل او ابتکار قُوې تقويه کېږي.

۳. د زده کوونکو اساسي مهارتونه وده کوي.
۴. زده کوونکي په رښتيا له ستونزو سره مخ کېږي.
۵. زده کوونکي د يو کار د کولو احساس او وياړ کوي.
۶. په پروژه کې مشاهده، اوربدل، ترتيب او د کار محصول ليدل کېږي.

### د لوبو مېتود

دا مېتود کالدول کوک په نوم يوه انګليسي ارواپوه رامنځته کړل، په دې مېتود کې زده کړيز فعاليتونه او موضوعات د لوبو په ډول ترتيببږي. زده کوونکي بحث، وينا، مقالې ليکنې او کار ته هڅول کېږي، دا مېتود په نقاشۍ، رسامۍ، موسيقۍ او نورو هنرونو کې کارول کېږي.

### د لوبو مېتود ښېګڼې

۱. زده کوونکي فعال کېږي.
۲. کمزوري زده کوونکي هم فعاليت کوي.
۳. له نورو سره د چلند زمينه برابرېږي.
۴. د قوانينو مراعتول هم په دې مېتود کې زده کېږي.

### د کرولي مېتود

مشهور بلجمي ارواپوه اويد کرولي د دې مېتود بنسټ په بروکسل ښار کې کېښوول او وروسته مشهور شول په دې مېتود کې هم ډېر زيات ټينګار د زده کوونکو په فعاليت باندې کېږي. د کرولي په مېتود کې ښوونځی کاملاً له چاپېريال سره ورته ښوول کېږي.

### د کرولي د مېتود اصول

۱. هغه مالوماتو ته لاسرسی چې زده کوونکی يې د تجربې له لارې تر لاسه کوي.
۲. د زده کوونکو غوښتې په پام کې نيول.
۳. په ځان باندې باور او همکاري سره کول.
۴. د اخلاقي ټولنيزې روزنې لپاره زمينه برابرول.
۵. د ذهني وړتيا له مخې د زده کوونکو سره پرتله کول.

**د مباحثې مېتود**

په دې مېتود کې یوه موضوع یا یوه ستونزه په نظر کې نیول او د ښوونکي له خوا زده کوونکو ته وړاندې کېږي زده کوونکو ته د آزاد بحث او فعالیت زمینه برابرېږي ښوونکی شرایط کنترولوي.

**د ګروپي کار مېتود**

په دې مېتود کې ټولګی په ځانګړو ګروپونو باندې وېشل کېږي او هرې ډلې ته یوه موضوع په واک کې ورکول کېږي د دوی تر منځ له مباحثې او فکري تبادلې وروسته د تشریح لپاره آماده کېږي (نظري، م، م ۱۱۰ – ۱۲۸)

**زده کوونکی محوره زده کړه Student Centered Learning**

شاګرد محوره زده کړه هغه پراخه او سیع اصطلاح ده چې په زده کړه کې د زده کوونکي، په فعالیت، تفکر او مسؤلیت باندې ټینګار او بحث کوي. تر کومې کچې چې په سنتي زده کړه کې په معلم محورۍ باندې ټینګار کېږي د زده کړې په نویو کړنلارو کې په شاګرد محورۍ هغومره تأکید او ټینګار کېږي. د شاګرد محوره زده کړې اغېزې او لاسته راوړنې مادام العمره وي. په دې مېتود کې په دې نقطو ټینګار کېږي. (بهرامي و خدا رحمی، ۱۳۸۷)

شاګرد محوره مېتود د خپلواک فکر کولو، نوښت، خپلواکې زده کړې، او مسلکي چلند لپاره د تدریس د یوې جامع تعلیمي طریقې استازیتوب کوي چې له سنتي مېتودونو څخه یې اغېزه ډېره او مؤثره ده . دا تدریسي طریقه زده کونکو ته د اړینو مهارتونو او چلندونو سره ځواک ورکوي چې په چټکۍ سره په بدلېدونکې نړۍ کې د بریالیتوب لپاره مهم دي. دا د انتقادي فکر کولو، ستونزې حل کولو او د نوښت په پراختیا باندې ټینګار کوي، زده کوونکي هڅوي چې تحلیل، پوښتنې او ابتکار وکړي. خلاص ذهنیت او د خطرونو اخیستلو لیوالتیا ته په زده کوونکو کې وده ورکوي. سربېره پردې، د زده کوونکو مسلکي چلند یو لازمي مهارت دی، مسؤلیت، اخلاقي چلند، مؤثره اړیکه او له نورو سره د رهبري او همکارۍ په وړتیا پاللو باندې ټینګار کوي. په اصل کې دا طریقه زده کونکي نه یوازې په اکاډمیکه پوهه سمبالوي

بلکې عملي مهارتونه او ذهنیت هم ورکوي چې د دوی په راتلونکي مسلك او ټولنو کې د بریالي او اغېزمن ژوند لپاره اړین دي. (کال: ۲۰۲۵ Vijay Pandey)

**د SCL مېتود ښېګڼې**

۱. زده کوونکي په ټولګي کې له ښوونکو، ټولګیوالو، تحقیقاتي او فکري فعالیتونو کې فعال نقش لري.

۲. په فکري او څېړنیزو فعالیتونو باندې ټینګار کېږي.

۳. استاد په ټولګي، لارښود، مشاور او د ستونزو د حل د لار ښوونکي ونډه لري.

۴. په درني انګېزه ایجادولو باندې تأکید کېږي.

۵. زده کړه په همکارانه ډول تر سره کېږي. ( بهرامي و خدا رحمی، ۱۳۸۷ )

**د ستونزې پر بنسټ زده کړه Prpblem Based Learning**

د ښوونې او روزنې پوهانو د فعالې او دایمي زده کړې د ایجاد او توسعت لپاره یو بل مېتود « د ستونزې پر بنسټ زده کړه Prpblem Based Learning » په نوم باندې مطرح کړل. دا په حقیقت کې د شاګرد محوری تر ټولو غوره مېتود دی چې زده کوونکي د مباحثې او فعال ګډون له طریقه زده کړه کوي. دا مېتود په ۱۹۶۰ م کال کې د باروز په وسیله د کاناډا هېواد په مک مسټر پوهنتنون کې ایجاد شو. په PBL مېتود کې د زده کړېزې پروسې لپاره یوه مسئله وړاندې کېږي چې زده کوونکي د معمول په ډول په ۵ نفري او ۱۰ نفري ګروپونو کې وېشل کېږي او د ستونزې د حل لپاره ګروپي هڅه کوي. په PBL کې د ښوونکي نقش اسانوونکی او هڅونکی دی، نه د درسي محتوا آماده کول. په دې مېتود کې زده کوونکي د مفاهیمو د حفظولو په ځای فکر کوي او په ډلییز ډول لاندې کړنې تر سره کوي.

۱. د ځواب موندلو هڅه کوي. ۲. اهداف تعقیبوي. ۳. خپلې درسي ستونزې د سوال او ځواب له لارې په ګروپونو کې حل کوي. ۴. له نویو علمي او اطلاعاتي منابعو سره آشنا کېږي. ۵. د زده کړې نوې لارې تجربه کوي. ۶. په مینه او انرژۍ له یوه او بل سره مرسته کوي. د ښوونکي له لوري په ټولګي کې داسې فضاء ایجادېږي چې د زده کوونکو د نوښت او استقلال فکر غوړېږي او په نفس یې اعتبار زیاتېږي. دا مېتود لاندې مهمې ګټې لري؛

۱. زده کوونکي د ځان ارزونې له طریقه خپل مهارتونه تقویه کوي.
۲. په زده کوونکو کې د استدلال د قدرت، منطقي تفکر او د کنجاوي حس د پیاوړتیا سبب کېږي.
۳. د نورو لپاره د نویو معلوماتو د برابرولو یو مهم مېتود دی.
۴. زده کوونکي د معلوماتو د راټولولو، تجزیې او تحلیل مهارتونه زده کوي. ( رشیدي، زهرا، م، م ۴۱ – ۴۵ )

**انتقادي تفکر Critical thinking**

د انتقادي تفکر په توسط زده کړه په ننني شرایطو کې د فعالې زده کړې له مهمو مېتودونو څخه یو مېتود دی. انقادي تفکر له تدریسي مېتود څخه عبارت دی، چې په هغه کې زده کوونکي د شواهدو، منطقي فکر او نظریاتو له لارې درسي محتوا تر لاسه کوي. په نړۍ کې موږ له پرېمانه معلوماتو سره مخ یو او لاسرسی ورته لرو. د انتقادي تفکر توانایې له موږ سره مرسته کوي، چې د ګڼو اطلاعاتو او باحجمه معلوماتو له منځ څخه مهم، ضروري او موثق معلومات تر لاسه کړو. د کمزورو، ناسمو او جعلي معلوماتو څخه ځان وژغورو. انتقادي تفکر چې تدریسي موضوع او مسأله د زده کوونکو تر منځ د بحث او انقاد لاندې راځي نه یوازې د ښې او ژورې زده کړې باعث کېږي، بلکې زده کوونکي د ټولنیز مشارکت لپاره فعالوي. د اوسني عصر پرمختګ ایجابوي چې زده کوونکي دې په انتقادي تفکر سمبال شي چې د ټولنیزو ستونزو او مشکلاتو په وړاندې د سالمې تصمیم نیونې قوه په کې پیاوړې شي.

**د انتقادي تفکر Critical thinking ګټې**

۱. خلاقیت او نوښت، د انتقادي تفکر له مهمو بعدونو څخه یو دی. دا روش زده کوونکو ته امکان او فرصت برابروي چې د سنتي روش له حلقې دباندې په آزادانه ډول د تدریسي موضوعاتو په اړه فکر وکړي. د ستونزو د حل کولو په موقع کې زده کوونکي د تصمیم نیونې قوت پیدا کوي.

۲. د مسايلو د حل موندل. د انتقادي تفکر بله ښېګڼه ده چې ښوونکی زده کوونکو ته د هغوی استعداد برابرې، درسي موضوعګانې او مسلې وړاندې کوي او زده کوونکي د هغو د حل په لټه انتقادانه تفکر کوي.
۳. ارزيابي او قضاوت د انتقادي تفکر بله لاسته راوړنه چې په زده کوونکو کې تقويه کېږي. زده کوونکي په خپلو منځونو کې د سالمو او غير سالمو حل لارو په تړاو فکر او قضاوت کوي. ( راه چمندی و ديګران، م، م ۳ – ۱۴ )

**اکتشافي مېتود Discovery Method**

اکتشاف په لغات کې د يوه شي کشفولو او پيدا کولو ته وايې. د تدريس اکتشافي مېتود له هغې منطقي تدريسي کړنلارې څخه عبارت ده چې د هغې په توسط زده کوونکي دې ته اړ کېږي چې واقعيتونه او موضوعګانې پخپله وپېژني. په دې مېتود کې د ښوونکي په ځای زده کوونکي د مسئلو د حل لپاره لارې پيدا کوي. د ښوونکې دنده دا ده: چې زده کوونکو د فکر کولو او توليد زمينه برابره کړي، زده کوونکي نظريات وړاندې کوي او ښوونکی څار کوي. د زده کوونکو د سويې سره برابرې پوښتنې او مسئلې مطرح کېږي او هغوی ته د حل فرصت ورکول کېږي. دا مېتود ډېری وخت د ښوونځي په ټيټو ټولګيو کې تطبيقېږي. ( ساپی، شيرزاد ، م ۱۸ )

**ټکنالوجي محوره مېتود**

ټکنالوجي محوره درسي کړنلاره له هغې نوې تدريسي کړنلارې څخه عبارت ده چې په هغه کې له انټرنيټ، کمپيوټر، انټرنيټي سايټونو، پروجکټور، کمرې، مايکرافون او نورو الکترونکي موادو څخه استفاده کېږي. د اوسنی نړی له اړتياو او چټک پرمختګ سره په درسي ټولګي کې له اکترونيکي وسايلو څخه اسفاده يو مهم ضرورت دی ( فرقانی و ديګران، ، م، م ۵ – ۷ ) په معاصر عصر کې، د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجی پراخ پرمختګ د زده‌کړې او تدريس مفاهيمو ته نوې بڼه ورکړې ده. دا ټکنالوجي نه يوازې د معلوماتو د انتقال وسيله ده، بلکې د زده‌کړې د اسانتيا، ژورتيا، او چټکتيا لپاره يو بنسټيز فکتور ګڼل کېږي. د ټکنالوجي د عرصې پوهان وايې: که معلوماتي ټکنالوجي د تدريس له پرمختللو ميتودونو سره يو ځای

وکارول شي، نو دا به د زده‌کوونکو لپاره د فعال ګډون، انتقادي تفکر او انفرادي زده‌کړې فضا برابره کړي. د ټکنالوجۍ کارونه لکه بریښنایي زده‌کړه په درسي ټولګي کې ټکنالوجي او انټرنټي منابع د زده‌کړې کیفیت لوړوي. په ټکنالوجۍ ولاړه زده‌کړه دا زمینه برابروي چې زده‌کوونکی د یو منفعل اخیستونکي پر ځای یو فعال ګډونوال شي، او له محیطي شرایطو سره سم، په انفرادي توګه له محتوا ګټه واخلي. همداراز، دا ډول زده‌کړه د ښوونکو لپاره هم فرصت برابروي، تر څو تدریس د دودیزو مېتودونو پر ځای د همکارۍ، تحلیل، او حل‌لارو پر بنسټ په نویو مېتودونو باندې تنظیم کړي. له همدې امله، ټکنالوجي نه یوازې یو اختیاري انتخاب دی بلکې د مؤثرې، جامع، له عصري اړتیاوو سره برابره او د عادلانه زده‌کړې لپاره یوه مهمه نه انکارېدونکې اړتیا ده. د معلوماتي ټکنالوژۍ د کارونې له مهمو پایلو څخه یوه دا ده چې زده‌کوونکي کولای شي د فعاله ګډون له لارې د محتوا د تنظیم، تحلیل او ارزونې مهارتونه پراخ کړي. دا چاره د دوی په ذهني ودې، خلاقیت، او عملي پیاوړتیا مستقیم اغېز لري. له همدې امله، د ټکنالوجۍ په مرسته زده‌کړه یوازې د تدریس اسانتیا نه، بلکې د زده‌کړې ماهیت ته د بدلون راوستل دي.

**د ټکنالوجي محوره تدریس ګټې**

۱. د ټکنالوجي له پیشرفت سره د ښوونیز نظام همغږي.

۲. د فعالې او معاصرې زده کړې په رامنځته کولو کې مهم رول لري.

۳. زده کوونکي او محصلین له ټکنالوجیکي تدریس سره بلدېږي.

۴. په هغو علومو کې د زده کړې اغېزمنتیا چې ټکنالوجي ته اړتیا ولري.

۵. د ټکنالوجیکل مېتود له لارې د زده کوونکو تر منځ روابط پیاوړي کېږي، زده کړه له انفرادي ساحې څخه جمعي لوري ته سوق کېږي.

۶. زده کوونکي د ټکنالوجي سره آشنا کېږي چې د معاصر ښوونیز نظام یوه جدي اړتیا ده.

۷. نویو او تازه معلوماتو ته د لاسرسي اسانتیا ایجادېږي او په عملي او مشاهده ییزو فعالیتونو کې مرسته کوي.

د ښوونیزې ټکنالوجي د استفادې په وړاندې خنډونه:

۱. په مدرسو، مکاتبو او پوهنتونو کې د استادانو او زده کوونکو له ټکنالوجي سره نا آشنايي.

۲. د فني کسانو کمښت او د هېواد اقتصادي کمزورتیا د تعلیمي بنسټونو لپاره د لازمې او اړینې تکنالوجي د عرضه په برخه کې په ستونزو کې دی. خصوصاً په کلیوالو سیمو کې د ټکنالوجي په اړه ابتدایي پوهاوی هم نشته. ( روماني و دیگران، م، م ۲ – ۱۰ )

۳. د ټکنالوجیکي موادو په اړه د زده کوونکو او د هغوی د والدینو حساسیتونه.

البته ټکنالوجي محوره تدریس د نن زمانې د درسي کړنلارو په منځ کې یو انتخاب نه دی، بلکې یو ضرورت دی. دا لازمه ده چې په تدریسي ټولګې کې د عصري ټکنالوجي استعمال د وخت د ضایع کېدو سبب نه شي، او د ټکنالوجي (کمپیوټر، انټرنیټ، انټرنیټي، ډیزاینونو او... ) استعمال باید داسي نه وې چې په ټولګي کې د جمعي فکر او انساني روابطو، فکري تولید، نظریاتي ګډون په مخکې خنډ شي. ( خاني )

د سنتي او نویو مېتودونو تر منځ توپیرونه:

۱. په نویو مېتودونو کې د انسان ذهن فعال وې، درسي مفاهیم جذبېږي که چېرې له ذهني سویې سره متناسب نه وې، نه جذبېږي. په پخوانۍ درسي کړنلاره کې ذهن غیر فعال وي، د عکاسې د یوې ذخیرې په حیث مختلف تصویرونه حفظ کوي.

۲. په فعاله زده کړه کې استاد داسي شرایط آماده کوي چې زده کوونکي په خپله علاقه زده کړه کوي. مثلا زده کړه په نویو لارو کېدلی شي مؤثره شي. ښوونکی خپل زده کوونکي د مخکني شناخت او پېژند له لارې په ګروپونو وېشي. د زده کوونکو فعالیت ته په کتلو سره هغوی ته زده کړییز هدفونه ټاکي، تر څو یې هغوی تر لاسه کړي.

۳. په فعاله زده کړه کې ذهني مهارتونه، فهم، تحلیل او د مفاهیمو ترکیب له پخوا څخه لا ډېر تقویه کېږي. ذهني مهارتونه د ذهني فعالیتونو محصول دی. چون په فعاله زده کړه کې زده کوونکي ذهني او عملي فعالیتونه کوي، د ذهني او علمي فعالیتونو همغږي او کارونه ذهني تقویت ایجادوي. په غیر فعاله زده کړه کې زده کوونکي غیر فعال او فقط اورېدونکي وي، حتی ښه غوږ نیونکي هم نه شي کېدلی. د یو طرفه فعالیت په اساس غیر فعال شوي وي.

۴. فعاله زده کړه د ګروپونو تر منځ روابط تقویه کوي. زد کوونکي په مختلفو ګروپونو کې فعالیت کوي، د مشترک بحث او مشترکې تصمیم نیونې په وسیله د ګروپ معیارونو ته په کتلو سره فعالیت کوي. د مطلوب هدف د تر لاسه کولو مېتودونه زده کوي. ګروپي کار د زده کوونکو او زده کړې تر منځ علاقه ډېروي. د دې ترڅنګ په زده کوونکو کې د اجتماعي تعامل قوه تقویه کوي. دا چې غیر فعاله زده کړه شاګرد محوره ده، د زده کوونکو په انفرادي فعالیت او غوږ نیونه باندې ټینګار کوي. کله کله متضاد رقابتونه ایجادېږي.

۵. په فعاله زده کړه کې زده کوونکي په نفس باندې اعتبار پیدا کوي. په نفس اعتبار پیدا کول په ځان د اعتبار لرلو او پیدا کېدلو سبب کېږي. په فعاله زده کړه کې زده کوونکي خپل ځان آزمويي، په مختلفو موقعیتونو کې راڅرنګندېږي، د خپلو وړتیاو درک کوي. زده کوونکي جرأت مومي. په غیر فعاله زده کړه کې زده کوونکي په لږه کچه د توجه وړ وي، په زده کړه کې برخه نه لري، د وړتیاو د ښکاره کېدلو موقع په لاس نه ورځي. د عدم مشارکت په اوږده زده کړیزه دوره کې یې طبعي استعداد ته د غوړېدو فرصت نه ایجادېږي او هم داسي یې استعداد پټ پاتې کېږي.

۶. په فعاله زده کړه کې زده کوونکي د ذهني فعالیت په پایله کې مفهوم تر لاسه کوي او د مفاهیمو د درک او تولید مهارت زده کوي.

۷. د تفکر او تحقیق د قوې غوړېدل او پیاوړي کېدل د فعالې زده کړې یوه بله ننبه ده. چون په فعاله زده کړه کې زده کوونکي د سوال، مسئلې او ستونزې د حل په محراق کې دی. د مسئلې د حل فعالیت بناء کوي. د معلوماتو راټولول، تنظیم، طبقه بندي او د نظر وړ فرضیو څېړنه او د لاسته راوړو مفاهیمو توحید د فعالې زده کړې له هغو اغېزو او ګټو څخه دي چې زده کوونکي یې تر لاسه کوي.

۸. د فعالې زده کړې په پایله کې په زده کوونکو کې د ابهام تحمل وده کوي. په دې معنی که چېرته فرد په یوه نا معلوم برخلیك او وضع کې دچار او راګیر شي. رواني عواطف له لاسه نه ورکوي. په صبر او حوصله د مبهمې مسئلې لپاره حل پیدا کوي. د ابهام عمل د څېړنې او تحقیق ژورې روحیې ته اړتیا لري. هغه څوك چې د تحقیق قوه لري. ممکن د تحصیل په وخت کې له مختلفو پوښتنو سره مخ شوې وې او د

مسئلې د حل طبعي او باالقوه استعداد يې بالفعل ته راوړي وي. دغه پوهه د ابهام د تحمل سبب ګرځي.

۹. د خلاقيت او ابتکار د روح پياوړتيا د فعالې زده کړې يوه بله مهمه ښېګنه ده، چې په زده کوونکو کې د تفکر او مسئلې د مختلفو حل لارو قوه تقويه کوي. په دې ډول زده کوونکې نوښت، وړتيا او پياوړتيا ته رسېږي.

۱۰. د خپلواکۍ د روحيې او خودکيفايې فعاليت ميل د فعالې زده کړې بله مهمه اغېزه ده، چې په زده کوونکو کې د جمعي فعاليت په پايله کې پيدا کېږي. د پورته مواردو په نظر کې نيولو سره زدکوونکی په نفس باورمن، فعال، د ابهام د تحمل خاوند او خلاق وي او په آزادانه ډول د مسايلو د حل، د نوښت لپاره خپلواک فعاليت کولی شي. ( ملکی، حسين، ۸۷ )

**پايله**

د دې څېړنې له موندنو څخه څرګندېږي چې د تدريس په بهير کې د نويو تدريسي کړنلارو کارول د زده کړې په کيفيت او مؤثريت باندې مثبت اغېز لري. معلم محورې او سنتي مېتودونه د زده کوونکو فعاليت او فکر محدودوي او يوازې د معلوماتو په انتقال تمرکز کوي، چې له امله يې ذهني او عملي مهارتونه کمرنګه پاتې کېږي. برعکس، د فعالې زده کړې مېتودونه لکه د ستونزې پر بنسټ زده کړه، ګروپي کار، انتقادي تفکر، مونته مېتود، د دالتن مېتود او ټکنالوجي محوره تدريس، زده کوونکو ته په فعاله توګه د پوهې تر لاسه کولو فرصتونه مهيا کوي، د فکر او ابتکار مهارتونه پياوړي کوي، او د خپلواکۍ او مسوليت احساس وربښي. همدارنګه، دغه مېتودونه زده کوونکو ته د عملي زده کړې فرصتونه برابروي او د ټولګي چاپېريال هم د زده کوونکو د متقابل عمل لپاره مناسب کوي. له دې امله، د عصري تعليمي اړتياوو پوره کولو لپاره ضروري ده چې ښوونکي د نويو درسي کړنلارو په واسطه ټولګي عيار کړي. ترڅو زده کوونکي په بشپړ ډول ذهني، فکري او عملي وړتياوې ترلاسه کړي.

**وړانديزونه**

۱ .ښوونکو ته دې د فعالو تدريسي مېتودونو مسلکي روزنه ورکړل شي.

۲ .ښوونيزو مرکزونو کې دې د ټکنالوجی لازم وسايل برابر شي.

۳ .په ښوونځيو کې دې د فعالې زده کړې چاپېريال رامنځته شي.

۴ .د تدريس مېتودونو په برخه کې دې دوامداره څېړنې او ارزونې وشي.

**ماخذونه**


تحليلګران. (بې‌نيټه). [سرليک نا معلوم].

خاني، ابراهيم. (۱۳۸۱). ويژه ګی ها آموزش وپرورش کارا و اثر بخش و تجارب اکثر کشهورها.

خضرتي، غلام دستګير. (۱۳۸۱). د تدريس مېتود د لومړی زده‌کړو د ښوونکو لپاره. قيصه خواني، پېښور، پاکستان.

ساپي، محمود، او شيرزاد، محمد آقا. (۱۳۸۶). د ژبې د تدريس اصول.

رشيدی، زهرا. (۱۳۹۸). روش های نوين تدريس در دانشګاه ها، يادګيری مبتنی بر مسأله (رهنمای تدريس). وزارت علوم تحقيقات وفناوری، ايران.

رومانی، سعيد، نژاد سبزاور، حديث، او نور. (۱۳۹۹). آهميت و کاربرد فناوری در آموزش تاريخ. پرتال جامع علوم انسانی.

مقرب الهی، زهرا. (بې‌نيټه). روش های نوين تدريس. ناشر، پرتال جامع علوم انسانی.

پاکنهاد، شيرمحمد. (۱۳۸۴). ميتودهای عمومی تدريس. ښار ميمنه، فارياب افغانستان.

ضرابيان، فروزان، او شمګانی، حشمت الله. (۱۳۹۹). بر رسی روشهای تدريس سنتی و مدرن و تاثير آن درياد‌ګيری دانشجويان. پيام نور، اصفهان، ايران.

فرقانی، نوشين، فرخی نژاد، پريسا، او نور. (۱۳۹۵). نقش و تاثير فناوری اطلاعات و ارتباطات در تحولات نظام آموزشی. کنفرانس بين المللی روانشناسی، علوم تربيتی و رفتاری، تهران، ايران.

کاظمی، سيده معصومه، او کوهساره، فرزانه عبادی. (۱۳۹۹). شيوه های نوين آموزش.

ملکی، حسن. (۱۳۸۴). صلاحيت حرفه معلمی. تهران، انتشارات معلم.

نظري، قدرت الله. (۱۳۹۴). تربيتي اروا‌پوهنه. انتشارات، ايک جهان اسلام.

نظري، قدرت الله. (۱۳۹۵). د ښوونې او روزنې اساسات. عرفان خپرندويه ټولنه، کندهار، افغانستان.

https://doi.org/10.3389/feduc.2025.1518602